# د ننګرهار د ټولنیز - اقتصادي جوړښت څېړنه

(۱۳۹۱ - ۱۳۹۶)



څېړنپوه دکتور محمدعلم اسحق زی

د ننګرهار د ټولنيز- اقتصادي جوړښت څېړنه (۱۳۹۱ - ۱۳۹۶)

څېړنپوه دکتور محمدعلم اسحق زی

۱۳۹۹ هـ ش

# The Study of Nangarhar Socioeconomic Structure (2012 - 2017)

Professor Dr. Mohammad Alam Ishaqzai

ISBN 978-9936-661-22-6

9 789936 661226

2021

د افغانستان اسلامي جمهوریت

د علومو اکاډمي

د بشـــري علومــو معاونیت

د ټولنیزو علومو مرکز

د اقتصاد انـستیتوت


# د ننګرهار د ټولنیز- اقتصادي جوړښت څېړنه (۱۳۹۱ ـ ۱۳۹۶)


لیکوال: څېړنپوه دکتور محمدعلم اسحق زی



۱۳۹۹ هـ ش

# د کتاب ځانګړنې

**د کتاب نوم:** د ننګرهار د ټولنیز- اقتصادي جوړښت څېړنه (۱۳۹۱ ـ ۱۳۹۶)

**لیکوال:** څېړنپوه دکتور محمدعلم اسحق زی

**ایډیټ او اهتمام:** څېړندوی رحیم الله حریفال

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ کال:** ۱۳۹۹هــ. ش. /۲۰۲۱ ز

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل – افغانستان

**د چاپ شمېر:** ۵۰۰ ټوکه

**ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۶۱-۲۲-۶

**د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي.**

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

عنوان مخ

سریزه ........................................................ ۱

**لومړی فصل**

**د موضوع شالید** ........................... ۹

۱- د ننگرهار ولایت جیوپولیتیک (جغرافیوي) موقعیت ................ ۹

۲- ننگرهار د تاریخ په اوږدو کې ................................ ۱۳

**دویم فصل**

**د ننگرهار ټولنیز- فرهنگي جوړښت** ............ ۱۷

۱- د ننگرهار ټولنیز جوړښت ........................................ ۱۷

الف: د ننگرهار ولایت اداري واحدونه ............................ ۱۷

ب : د ننگرهار ولایت میشت قومونه ................................ ۲۱

۲- د ننگرهار فرهنگي ارزښتونه ...................................... ۲۳

الف: دودونه او رواجونه ................................................ ۲۳

ب – ښوونه او روزنه ...................................................... ۳۱

ج – نشرات او خبري رسنۍ ............................................ ۳٤

د – د ننگرهار تاریخي او تفریحي ځایونه ........................... ۳۹

**درېیم فصل**

**د ننگرهار ولایت اقتصادي سکتورونه** .............. ۵۳

۱- د کرنې، مالدارۍ او اوبو لگولو سکتور ............................ ۵۳

۲- د صنعت سکتور ............................................................ ۸۸

۳- د کانونو او انرژۍ سکتور.................................................. ۹٤

۴- د سوداگرۍ سکتور......................................................... ۱۰۰

۵ - پانگونه ........................................................ ۱۰۶
الف - دولتي پانگونه ................................................ ۱۰۶
ب - خصوصي پانگونه.................................................. ۱۰۷

**خلورم فصل**

**د ننگرهار ولایت عایداتي سرچینې** .......... ۱۰۹
الف- دگمرکونو عواید ................................................ ۱۱۲
ب : د کوچنیو مالیه ورکوونکو د اداري عواید(S T O ) ............. ۱۱۷
ج- د منځنیو مالیه ورکوونکو عواید(M T O)......................... ۱۲۰
د - د لویو مالیه ورکوونکو اداره(L T O) ............................ ۱۲۳
ه – متفرقه عواید.................................................... ۱۲۵
**پایله** .............................................................. ۱۳۱
**وړاندیزونه** ........................................................ ۱۳۵
**مأخذونه** ........................................................... ۱۳۸

# سریزه

که چېرې د افغانستان لرغوني تاریخ ته ځیر شو دا څرګندېږي چې ننګرهار، ناګاراهارا،ګندهارا او بولان هغه سیمې دي چې ډېر لرغونی تاریخ لري. د لرغون پېژندونکو له نظره یو نیم میلیون کاله پخوا بشري ټولنه موجوده وه، چې د بشر د موجودیت لومړۍ مرحله د تاریخ په اوږدو کې ډېره اوږد مهاله او توره مرحله وه؛ خو کله چې انسانانو د تولید وسایل لاس ته راوړل دغه حالت په بشري نظام کې یو ستر انقلاب او بدلون له ځانه سره راوړ.

زموږ هېواد افغانستان په ما قبل تاریخ کې د بشري نظام جوړښت درلود، چې د لرغون پېژندونکو له خوا یې نخښې او نښاني لیدل شوي دي، چې انسانانو به یو له بل سره راکړه ورکړه درلوده. دې پروسې له یوه نسل څخه بل نسل ته، له یوه اقتصادي نظام څخه بل اقتصادي نظام ته انتقال و موند. د ځینو څېړنو او دلایلو پر اساس ننګرهار ولایت د لرغونو ټولنیزو - اقتصادي مناسباتو څخه یوه برخمنه سیمه پېژندل کېږي.

ننګرهار د تاریخ په اوږدو کې او همدارنګه د کوشانیانو په دوره کې او په خاصه توګه د کوشاني ستر مشر کجولا کدفیزس او همداشان د ستر کنیشکا (یما) د واکمنۍ په دوره کې د شرق او غرب تر منځ د اړیکو یوه ستره تجارتي لار وه، په هغه دور کې له هند او چین څخه ظریفې وریښمینې پارچې، عطریات، پنبه او داسې نور شیان له دغې لارې ماورالنهر او هم د فارس له لارې عربي هېوادونو او په خاصه توګه مال التجاره شام او یا هم نن‌ۍ سوریې ته صادریدې.

څرنګه چې ننګرهار د ترانزیت په لویه لاره پروت و، د ننګرهار خلکو، د تجارت له درکه زیاتې مالي او اقتصادي ګټې لاس ته راوړلې.

له ننګرهار څخه يوه لار د کونړ او نورستان له لارې تر چترال او بيا د چين تر کاشغر غځېدلې ده، او بلې لارې له خيبر څخه د هندوستان تر امرتسر پورې امتداد درلود، چې له دغو لويو لارو څخه تجارتي توکي او اقلام له لوی ننګرهار څخه د غرب په لور يعنې د روم او يونان سترو امپراتوريو ته ستر ـ ستر کاروانونه د ننګرهار له لارې تېرېدل او د مال التجاره لپاره تم ځای د هډې تاريخي ښار و، او له ننګرهار څخه زراعتي محصولات لکه: غوزان، جلغوزي، قيمتي او نيمه قيمتي ډبرې اروپايي هېوادونو ته صادرېدل او هم به له ننګرهار څخه د ګلو ګېډۍ د تحفې په ډول د سيمې مشرانو او واکمنانو ته استول کېدې.

د ننګرهار ولايت ټولنيز- اقتصادي جوړښت له ميلاد څخه وروسته په تدريجي توګه تغيير وموند، د هډې ښار، دسلطانپور سيمه، رودات، بهسود، غازي اباد، چاردهي او ښيوه دا هغه تاريخي سيمې دي چې په يادو تاريخي مراحلو کې به د خلکو تر منځ د زراعتي او صنعتي توکو تبادله ترسره کېده. د اجناسو مبادله جنس د جنس په مقابل کې او هم د سرو زرو، سپينو زرو او مسي- سکو په وسيله د تجارتي توکو په ټاکلو کې خاصه ونډه درلوده او اجناس به د يادو سکو په وسيله په بازارونو کې تبادله کېدل او د ننګرهار د خلکو ژوند په دغه خاصه مرحله کې په ښه شان سره پر مختګ وکړ.

د ميلاد په پنځمه سليزه کې په ننګرهار ولايت کې د ټوکرانو اوبدلو، کلالي، زرګري، د قيمتي او نيمه قيمتي ډبرو صنعت او د کرنې او مالدارۍ برخې په ښه شان سره وده او پر مختګ کړی و. له ننګرهار څخه وريجې، جوار، سبزيجات او لاسي محصولات نورو سيمو ته د خرڅلاو په خاطر عرضه کېدل، د خلکو تر منځ راکړه ورکړه د جنس په

جنس او مسکوکاتو په ذریعه ترسره کېده. د ننگرهار ولایت خلکو په هغه دوره کې د پرمختګ او هوساینې پر لور ورځ تر بلې په ټولنیزو اقتصادي برخو کې خپلې بریاوې لاس ته راوړي.

د یادولو وړ بولم کله چې ظهیر الدین بابر مغولي پاچا دننگرهار له لارې هندوستان ته تېرېده، د ننگرهار اقلیم، ګڼ شمېر د ګلونو او مېوو باغونه یې ولیدل، دا سیمه یې ډېره خوښه شو، همدا علت و چې جلال الدین اکبر د ظهیرالدین بابر زوی په نهمه هـ ق پیړۍ کې د جلال اباد ښار ډېره کېښوده. په دغه دوران کې د جلال اباد ښار یو ستر تجارتي او صنعتي مرکز وګرځېد. په دې مرحله کې د جلال اباد په ښار کې مسافر خانې او د تجارتي توکو ګودامونه رامنځ ته شول، په دې ښار کې د وخت رنګین ټوکران، لیمڅي او داسې نور زینتي ټوکران اوبدل کېدل. همدارنګه دغه محصولات او نور زراعتي او حیواني مالونه د(ټنګې) په ذریعه تبادله کېدل. د روداتو، ثمرخېلو، د غازي اباد او چاردهي د ټوکرانو او نورو حیواني او نباتي محصولاتو د خرڅلاو لپاره په جلال اباد ښار کې ښه بازار پیدا شو او له ننگرهار څخه به دغه محصولات ماواءرالنهر او نورو شمالي او غربي ولایاتو ته انتقالېدل.

د افغانستان په معاصر تاریخ کې ننګرهار، د افغانستان د شاهانو او امیرانو لپاره د ژمي په موسم کې د استراحت او مېلې ښکلي سیمه او د اهمیت وړ ځای و. همدارنګه ننګرهار د امیر شیر علي خان او امیر حبیب الله خان دوره کې د هېواد ژمنی مرکز و، چې له امله یې افغاني شاهانو په دې ولایت کې تولیدي دستګاوې او ستر باغونه جوړ کړل.

ننگرهار چې ستروپیک(مونسوني او مدیترانه یی) اقلیم لري د ستروسو او ګنیو د کښت لپاره ښه مساعد دی، د اعلیحضرت امان الله

خان په دوره کې د قند فابریکه جوړه شوه چې له ګنیو څخه به بوره او قند په کې جوړېده. همداشان په ۱۳۳۵ لمریز کال د هېواد لومړنی اقتصادي - پرمختیایي پلان چې د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په سلطنت او د سردار محمد داود خان د صدارت په وخت کې طرحه شو، یو هم د ننګرهار ولایت د زراعتي کانال پروژه وه چې ۲۵ زره هکتاره بکره او بایره ځمکه یې خړوبه کړه او له دې جملې څخه۱۱ زره هکتاره ځمکه دولتي سکتور ته اختصاص ورکړل شوه، چې په دې پروژه کې (۹) زره کارګرانو او ماهرینو ته د کار زمینه برابره شوه او په دې کرنیزه پروژه کې په زرهاوو د زیتونو او ستروسو ونې کېنول شوې. د دغې پروژې تطبیق په ننګرهار کې د یوه شنه انقلاب پیلامه وه، چې د دې پروژې د تطبیق پر اساس د ننګرهار په اقلیم کې هم مثبت بدلون راغی.

په هېواد کې دننه او له هېواد څخه بهر د ستروسو او زیتونو د محصولاتو صادرات پیل شول، د مالدارۍ برخې وده وکړه، له زراعتي فارمونو څخه حیواني محصولات او په خاص ډول شیدې په جلال اباد او کابل ښار کې خلکو ته عرضه شولې. نورو ولایاتو او حتی له هېواد څخه بهر د کرنیزو محصولاتو صادرات پیل شول. د ننګرهار د درونټې د برېښنا شبکې د ۱۲ زره کېلو واټو په ظرفیت د صنعتي تولیداتو او په خاصه توګه د اوسپنیزو صنایعو او پرزه جاتو په جوړولو کې خاص رول ولوباوه، او د ننګرهار ولایت ټوکران، ماربل او له شوکاټو څخه جوړ شوي محصولات، له هېواد څخه بهر صادر شول او د ننګرهار ولایت خلکو ته د ژوندانه ښه زمینه مساعده شوه.

ننګرهار ولایت د هېواد د یوه نه بېلېدونکي جز په توګه هغه تجارتي او اقتصادي پرمختګونه چې په هېواد کې رامنځ ته شوي دي، د

ننګرهار ولایت له دې پرمختګونو او بریاوو څخه ګټه پورته کړې ده. د هوايي ډګر، پخو سرکونو او د ترانزیت د سترې لارې جوړولو د ننګرهار په اقتصادي جوړښت باندې مثبته اغېزه کړې ده.

مګرپه خواشینۍ سره باید ووایم، هغه اقتصادي او ټولنیز پرمختګونه چې په ننګرهار کې موجود وو، په هېواد کې د پرله پسې سیاسي بدلولونونو او کورنیو جنګونو په نتیجه کې ویجاړ او یا زیانمن شوي دي.

د ستروسو او زیتونو باغونه، د اوبو رسولو شبکې، ترانسپورتي لارې، تولیدي کارخانې، د خصوصي او دولتي تشبثاتو فعالیتونه یې دړې وړې او هم له منځه یوړل او ننګرهار ولایت ته یې په اقتصادي او ټولنیزه برخه کې ډېر زیات زیانونه واړول. له ۱۳۹۱ کال څخه تر ۱۳۹٦ لمریز کال پورې په ننګرهار ولایت کې په ټولنیزه- اقتصادي برخه کې د پام وړ تغییرات را منځ ته شول. په یادو کلونو کې د ننګرهار ولایت په عوایدو کې بې سارې زیاتوالی راغی، ویلای شم چې د هېواد په کچه یو پر لسمه برخه عواید له ننګرهار ولایت څخه د دولت په خزانه کې شامل شوي دي. د زراعت په برخه کې په زیاته اندازه پانګونه شوې ده، د کرنې ریاست له خوا بزګرانو ته د اصلاح شویو تخمونو د وېش په نتیجه کې د غذايي محصولاتو په تولید کې٪۲۰زیاتوالی راغلی دی. د ګلابو پروسس په دریوو ولسوالیو کې، د سبزیجاتو انتقال عربي اماراتو او هندستان ته د ننګرهار په اقتصادي پیاوړتیا کې خاصه ونډه درلودلې ده.

د ننګرهار کانال پروژې د نیالګیو، د زیتون فابریکې احیا، د ځنګلونو ساتنه او حفاظت د دې لامل شوی، ترڅو د هسکې مېنې په غوزانو، د سپین غره د جلغوزیو او همداررنګه د مالټو او زیتونو په تولیداتو کې زیاتوالی راشي.

د مالـداري او د چرګـانو د فـارمونو احیـا او انکشـاف د ننګرهـار د عوایدو په سطحه بانـدې مثبتـه اغېـزه کـړې ده.لبنیـات او نـور حیـواني محصـولات د ننګرهـار پـر ښـار سربېـره د هېـواد نـورو ولایـاتونو تـه هـم صادرېږي، دا څرګنده ده چې ننګرهار ولایت اوس د غذایي محصـولاتو له کبله د خود کفایي مرحلې ته رسیدلی دی.

په ننګرهار ولایت کې د کلو د پراختیا ریاست له خـوا ۵۰۰۰ ټـولګټې پروژې پلې شوې دي او یو شمېر نورې پروژې تـر کـار لانـدې دي، چـې دا حالـت پـه کلیـوالي اقتصـاد بانـدې مثبتـه اغېـزه کـړې ده او د ولایـت پـه سطحه ۱۵٪ د ناخالصو محصولاتو په ونډه کې زیاتوالی راغلی دی.

په وروستیوو کلونو کې ۴۸۰ کېلو متره سرکونه په پاخه او اسـاسي ډول جوړ شوي دي، د ولسوالیو او مرکز ترمنځ ټـولې لارې پخـې شـوې دي، د ننګرهار په ټولو ولسوالیو کې روغتیایي کلینیکونـه او د وترنـرۍ مرکزونه جوړ شوي دي او همدارنګه د ننګرهار په ولسوالیو کې د مـلي فرهنـګ د بـډاینې او پـر مختـګ پـه خـاطر ښـوونځي او ځینـې دینـي مدرسې جوړې شوي دي، چې د هېواد د ځوانانو په سـالمه روزنـه کـې فعاله ونډه لري.

همدارنګه د برېښنا نوې شبکه له نغلو څخه د لغمان له لارې تر جلال اباده غځېدلې ده. فعلاً په ننګرهار کې یوازې له ۱۳۹۱-۱۳۹٦ کال پورې ۸۵ فعالې لویې او کوچنۍ تولیـدي دسـتګاوې موجـودې وې. د شـوکاڼو، ماربلو قراردادونه لـه خصـوصي شرکتونـو سره لاسـلیک شـوي دي او زیاتـه اندازه عواید د هېواد ملي بودجې ته انتقال شوي دي، چې دغې پروسې د ننګرهار ولایت اهمیت او موقف د هېواد په کچه زیات کړی دی.

**د موضـوع مبرمیـت او اهمیـت**: څرنګـه چـې ننګرهـار ولایـت د

هېواد په ختیځه دروازه کې موقیعت لري او همدارنګه د موسمي اقلیم له پلوه له نورو ولایتونو سره توپیر لري، د دې ولایت کرنه او غذایي محصولات د نورو ولایتونو په پرتله د کیفیت او زرع له امله هم یو څه تفاوت سره لري. ننګرهار ولایت یو ګڼ میشتی ولایت دی او د مختلفو قومونو او ځانګړي فرهنګ موجودیت، دې ولایت ته ځانته ځانګړنې ور په برخه کړې دي. دې اصل ته په کتو او همدارنګه د ننګرهار جیوپولیتیک جوړښت او موقیعت، دې ته وهڅولم ترڅو د افغانستان د علومو اکاډمۍ د علمي او اکاډمیکو څېړنو په چوکاټ کې د ننګرهار اقتصادي- ټولنیز جوړښت تر سرلیک لاندې دا موضوع تر څېړنې او تحقیق لاندې ونیسم.

د دې علمي پروژې مبرمیت او اهمیت په دې کې دی چې تر اوسه پورې د ننګرهار ټولنیز– اقتصادي جوړښت تر سرلیک لاندې علمي او اکاډمیکه څېړنه نه ده ترسره شوې. دا کار به په راتلونکي وخت کې دا امکان را میسر کړي، ترڅو د هېواد د نورو ولایتونو ټولنیز– اقتصادي جوړښت څېړنو او تحقیق ته زمینه برابره کړي او هم د هېواد په کچه په دې برخه کې علمي او اکاډمیکې څېړنې ترسره شي.

**هدف**: د دې علمي - تحقیقي اثر له لیکنې څخه هدف دادی، چې د ننګرهار ولایت ټولنیز- اقتصادي جوړښت په سیستیماتیک او منظم ډول وڅېړل شي، هغه لاسته راوړنې، بریاوې او ستونزې چې د ننګرهار په ټولنیز- اقتصادي جوړښت کې موجودې دي، باید په دقیقه توګه تحلیل او تر څېړنې لاندې ونېول شي، ترڅو د پرمختګونو پر عواملو او مېکانیزمونو باندې خبرتیا او پوهه تر لاسه کړو او د پرمختګ اساس او عوامل یې تشریح او تر دقیقې څېړنې لاندې ونیسو، ترڅو په

راتلونکې کې د پرمختگ د مېکانيزم تجربه او د هېواد په سطحه ترې گټه واخلو او همدارنگه هغه ستونزې چې په ټولنيز- اقتصادي بهير کې موجودې دي، د حل لپاره له خاصو تجربو او کړنلارو څخه گټه واخلو، ترڅو د ستونزو د حل لپاره مناسبه لار ومونډل شي.

**د څېړنې ميتود:** په دې علمي- څېړنيز اثر کې به له خاصو اقتصادي ـــ ټولنيزو ميتودونو څخه استفاده وشي، چې په تحليلي، بيلانسي او رياضيکي ميتودونو باندې به زياته تکيه کېږي او همدا شان به په دې اثر کې له کمي او کيفي ميتودونو څخه هم گټه واخيستل شي. مسايل او ارقام به د يو بيلانس په څېر په پام کې ونېول شي او د حسابي ارقامو پر بنياد به مسايل په دقيق ډول وڅېړل شي.

دغه علمي - څېړنېز اثر د څلورو فصلونو څخه ترکيب شوی دی چې په لومړي فصل کې د موضوع شاليد، په دويم فصل کې د ننگرهار ټولنيز- اقتصادي جوړښت ته کتنه او په درېم فصل کې د ننگرهار اقتصادي سکتورونه او په څلورم فصل کې د ننگرهار ولايت عايداتي سرچېنې تر سرليک لاندې مسايل څېړل شوي دي، د اثر په وروستۍ برخه کې، نتايج، وړانديزونه او ماخذونه شامل دي.

د دې اثر په ليکلو کې د افغانستان د علومو اکاډمۍ له مشرتابه، د ننگرهار ولايت مقام، د ننگرهار مستوفيت، د کانال رياست، د اقتصاد رياست، د گمرک رياست، د ننگرهار پوهنتون رياست، د ننگرهار دکرنې رياست، د سوداگرۍ او صنايعو رياست، د اطلاعات او فرهنگ رياست، له رئيسانو او کارمندانو او په خاصه توگه د علومو اکاډمي له پخواني مرستيال څېړنپوه نصرالله ناصر څخه ډېره مننه کوم، چې د دې اثر د بشپړولو پرمهال يې له ما څخه هيڅ ډول همکاري او مرسته نه ده سپمولې.